دهیجان شهادت سلحشور ...

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شمارهٔ مسلسل (٩٧٧) سال هژدهم شمارهٔ (٦٢) پنجشنبه (٢) سنبله ١٣٧٤ هـ ش (٢٨) ربیع الاول ١٤١٦ هـ ق (٢٤) اګست ١٩٩٥ م .

قیمت (٢٠٠) افغانی (٢ روپیه)

دکابل اداري دبې کفایتي اوخپلسري له امله :

دافغانیو بیه نوره هم راولویده

پیښور د وېږ (١)

د پیښور چار د چوك یادګارڅخه دشهادت ښاري خبریال خبرراکوي چې دادوي ورځې کیږي چې دافغانیو بیه ترپخوا نه زیاته رالویدلې اود ضرورت وړ شیزونو بیه په افغانیو زیاته لوړه شوې ده .

خبریال په چوك یادګارکې دیوه افغان صراف له قوله دافغانیو دبیې دراټیدو علت دزیاتو افغانیو چاپ کیدل اودکابل اداري بې کفایتي ښودلې.

همدارنګه خبریال دیوه بل صراف له قوله بیا دافغانیو دبیې دراټیدو علت دکابل اداري له خوا دالروترلاسه کول ښوولې اوویلې یې دي چې روسانو دتیرقرارداد په حساب دکابل اداره پور ورې کړې اواوس د پیسو دچاپولو هغه پورچې دځومودي راهیسې یې دکابل اداري په غاړه پاتې ډالږاري چې هغه دډالرو په حساب ترینه ترلاسه کړي څکه چې روسان دډالرو په مقابل کې کابل اداري ته پیسې چاپوي.

دیادوني وړ ده چې دکابل اداري دغه بې کفایتي اوخپلسري به تورهم زمونږملت اقتصادي ستونزو کې راګیر کړي داڅکه چې اوس (٥٥٠) کلداري په یو لك افغانیو تبادله کیږي چې پخوا حساب دافغانیو بیه (٣) پر(٤) ښکته راپریوتې اودورځنۍ ژوندانه دارتیا وړ شیزونو بیه په همدې مقیاس په جګیدو ده .

زمامداران اداره کابل مي خواهند اوضاع را عادي جلوه دهند :

راکت باران اخیر خوف ووحشت غرب کابل را افزایش داده است

کابل - ٣١ اسد :

درحالي که غرب کابل دوبار مورد اصابت راکت قرارګرفته واوضاع درآنجا متشنج مي باشد دیروزبرخی از اعضاي بلندرتبه اداره کابل جلسه اي رادرآنجا تشکیل دادند که نشان دهندکه ګویا درغرب کابل امنیت برقراراست .

فاضل مربوط ګروه اکبري درکارته سخي طي این جلسه بمردم خطاب کرد که درغرب کابل اوضاع آرام بوده ومردم باآرامش خاطرمي توانند بمنازل شان بازګردند.

این درحالي است که منطقه غرب کابل قبلاً بدون سکنه بودو واکنون هم براثر راکت باران کاملاً تخلیه شده است .

دلجوحسیني وزیراطلاعات وفرهنګ اداره کابل دراین جلسه تحرکات ظاهرشاه رابي ګیري نموده وآن را یك تلاش ضداسلام ومردم افغانستان دانست .

دځاځیودغوند په فتح کیدو سره دنظار شوری دنوی جوړشوی "جنوبی زون" دفعالونقشه دری وری شوه

دأسد دوروستي شپې په ١٢ نیمو بجو په ځاځیوکې دوسیاف وپخواني غونډ چې ، دنظارشوري دجنګي نقشو اوفعالیتونو په اډه بدل شوي و، دحزب اسلامي افغانستان دځاځیو مجاهدینو دهغه ځاي خلکوپه ښیړه توګه ونیو .

دالغونډ دطالبانو تررانلوووروسته ، په جنوب کې یواځیني مرکزوچې دائتلافي اداري په واك کې پاتې و، هغوي چې کله سیاف دنوي جوړشوي «جنوبي زون » مسئول وټاکه ، غونډتل ئې تومووري غونډ دسیاف دپوځي فعالیتونو اساسي مرکزکړي .

دشهادت خبریال دحزب « دیوه پوځي خبرځاي په حواله ریوټ راکوي چې دحزب مجاهدینو دتوموري غونډ په نیولو سره بوه زیاته اندازه مهمات اووسایل لاس ته راوړي دي .

له څوورځوراپه دیخواداتئلافي اداري قطعاتو دحزب اسلامي دمجاهدینوپه موقعیتونو باندي دتوپونو اوتوغندیو وزي کولي، چې په دي وجه دسیمي خلکوته زیات تنګسې اوستونزې راولاړې شوي وي ، ورمه ورځ ئې په شاوخواسیمو باندي درنده بمبارې شروع کړه چې په نتیجه کې ئې دځاځیوولس او دحزب مجاهدین مجبورشول په اقدام لاس پورې کړي او ترڅوساعته جګړې وروسته غونډ په بشپړه توګه ونیسي .

ریوټ زیاتوي چې په دې جګړه کې دځاځیو مجاهدین اومیړني خلك دحزب له مجاهدینوسره څنګ په څنګ ولاړوو اواصلاً جګړه دوسیاف - نظارشوري » دغونډ اوځاځیودغیرتي خلکوترمنځ وه .

دځاځیوشریف خلك له توموري مرکزنه ډیر په تنګ وو، دسیمې زیاته ساحه ئې په پوستونیولي وه ، دوولس سوه افسرانو اوافرادوته ئې دنظارشوري له خواتنخواه ورکول کیده ، اوددي کسانو ډیره برخه دپغمان اوکابل دنورو سیموه اوکم شمیرئې د پکتیا وو .

تیرکال هم د «نظارشوري - سیاف » دغونډ اوځاځیو دخلکو ترمنځ نښته وشوه چې دقومي جرګي په دې پریکړه پای ته ورسیده چې : دغونډ ساحه به محدودیږي ، هغه پوستي به راټولیږي چې کلیوته نژدې پرتې دي ، غونډ به دځاځیو مجاهدینوته سپارل کیږي او دنورو ځایونوافراد به تري وځي . خواتئلافیانو داپریکړه پومخ ترپښولاندې کړه .

په اوستي جګړه کې هم دځاځیو دمجاهدوخلکو شرطونه داووچې : غونډدې ځاځیوته وسپارل شي ، دنورو ځایونو افرادبه وځي، دغونډ خورې پوستې دې راټولې شي، په غونډکې موجودمهمات به دکابل په جګړه کې نه استعمالیږي

دریم مخ

دطالبانو قوماندانانو :

دنوروجهادی تنظیمونو له قوماندانانو سره دیوځای کیدو غوښتنه وکړه

کندهار د وږي (اوله)

له کندهار ولایت څخه طالبانو ته نژدې یوه باخبره منبع په خپل یوه ریوټ کې لیکي چې پدې وروستیو کې دطالبانو څو سیمه ایزو قوماندانانو دکندهار ولایت یوه عمومي قوماندان ملا محمد اعظم ته دکندهار له والي اود ولسوالیو له مسئولینو څخه شکایت کړي چې هغوي له دوي سره خپلي هرډول مرستې بندي کړي او هغوي یې له زیاتو ستونزو سره مخامخ کړي دي.

خبرځاي لیکي پدي قوماندانانو کې چې ملا علم ،ملانورګل اوقوماندان پهلوان شامل دي له ملا محمد اعظم څخه یې غوښتي چې ژر تر ژره په کندهارکې دطالبانو په شورا کې ددوي غوښتنه مطرح کړي.

(٤)مخ

دکوهدامن دووقوماندانانو دسالنګ دجګړې له لومړی کربنی څخه خپل افراد راوېستل

یوې باوري منبع د"شهادت" خبریال ته وویل چې دکوهدامن دووتنو قوماندانانو محمدانور اوحبیب "افغان" دنظارشوري فاشیستي کړو وړو باندي داعتراض په توګه دسالنګ دجګړې له لومړي کرښي نه خپل افراد راوایستل اودجګړې له ادامي یې انکار وکړ.

زمونږ خبریال دنوموړي منبع په حواله زیاتوي چې په خپلو نظامي لیکوکې دژبني ،قومي اوتژادي نفرتونو دراپاړولو په برخه کې دنظار شوري تبلیغاتو اواجراآتو تولې پولې تړولي اوډافراط اورسوایي بدترین حالت ته رسیدلي دي.

ریوټ وایي چې داموضوع ددې سبب شوي چې له هغوکسانو سره چې په یوه ځانګړې ژبه اوقوم پورې اړه نلري ، شدید عکس العملونه راپورته کړي چې په یوه اوبله پسې راڅرګندیږي اودقوماندان انور اوحبیب اقدام یې یوه نمونه ده .

جنګ دربامیان دوام دارد وآتش بس بوجودنیامده است

اګرنمایندګان صلح ایران به رهنمایی اداره کابل وارد بامیان شوند ، حزب وحدت با آنها مذاکره نخواهدکرد

پشاور - اول سنبله :

قبلاً خبري ازطریق رادیو مشهد پخش شده بودکه ګویاپین قوماندانهاي دوګروه متحارب دربامیان دیدارهاي صورت ګرفته و به آتش بس موافقه شده است .

خبرنګارشهادت براي تصدیق این خبربایك منبع حزب وحدت اسلامي درتماس شد، منبع ګفت : دوتن قوماندانهایي که سابق باشوراي نظار وګروه اکبري روابطي داشتند وتماس وتمایلي بطرف حزب وحدت دارند درغزني باآقاي حکیمي یکي ازفرماندهان حزب وحدت دیدارهاي داشته اندکه به استنادهمین خبر شایعه آتش بس قوت ګرفته . در حالیکه جنګ کماکان دربامیان ادامه داردو کدام آتش بسي تاحال بوجود نیامده است .

منبع ګفت حزب وحدت بیشترساحات غزني وبیشترشهربامیان را دردست دارد ولي درنواحي شرقي قوتهاي شوراي نظارنیز موجود مي باشد . منبع ګفت شوراي نظار باوجود کوشش هاي فراواني که براي تسخیربامیان به خرج داد درهدف خود ناکام شده واین ناکامي موقف ګروه اکبري ، ګروه جاوید وانوري را درنزد زمامداران اداره کابل پائین آورده است ، منبع اظهارداشت که اداره کابل هرګز

ص(٤)

داحمدشاه "مسعود" په باب دلویدیځ لهجه بدله شوې ده

دشهادت سیاسي خبریال په یوه ریوټ کې لیکي چې په دې وروستیوکې دنظارشوري درئیس احمدشاه «مسعود » په برخه کې دلویدیځو مطبوعاتواوله ایزي مفاهمي دنورو وسایلو ' جه زیاته بدله شوي ده اوداسي معلومیږي چې «لویدیځ » هغه هدف ته رسیدلي ،کوم ئې چې دمسعود په وسیله ترلاسه کول غوښت .

ریوټ وائي چې په داسي حال کې چې کمونستانو ماتې خوړلي وه ، اوغرب زمونږپه هیوادکې دجګړې ددوام لپاره هیڅ موثر اومشکل څواك نه درلود، نومسعودئې دیوې خوراموثرې مهرې په توګه استعمال کړ، داسي چې دنجیب ترنسګوریدو وروسته ئې دمجاهدینو دحکومت جوړیدل پرې سبوتاژکړل، په هیواد کې ئې دسولې اوامنیت دتأمین هدف وربانديتخریب کړ، جهادئې پرې بدنام کړ اودمسلمان په لاس ئې دمسلمان دوینو لښتې وربانديې وبهول .

ریوټ زیاتوي حالات ښیي چې مسعود دغرب لپاره خپل اهمیت اوافادیت له لاسه ورکړي او اوس یواځې دمسکراو دیلي رحم اوکرم ته اړتي دي، معلومه نه ده چې دهغوي ګټې به ترڅه وخته په کابل اوجبل السراج کې داحمدشاه مسعود له موجودیت سره ارتباط ولري .

این ګروه ها سابق تمایلات چپی داشتند

دوګروه سیاسی افغان وپاکستانی اتحادیه تشکیل دادند

پشاور .

ګروه نوتأسیس افغاني « دافغانستان ملي مبارزین » به رهبري شان پاچاوګروه پاکستاني «پختونخواقومي پارتي » برهبري افضل خان عضو کابینه فدرالي پاکستان طي یك اتحادیه نیم بند دست بهم داده میخواهند مشکلات افغانستان راحل وفصل کنند . وقدم اول براي همکاري بیشتر این دوګروه افغاني وپاکستاني بخاطر حل قضایاي مورد نظر ، تشکیل « شوراي ملي افغانستان» است .

ص (٣)

په ماهیپرکی ددښمنوقواوو یولوی تعرضی برید په شاوتمبول شو

سروبي - دووږي ١ :

دکابل ولایت دسروبي ولسوالي څخه په رارسیدلو ریوټونو کې ویل کیږي چې تیره شپه په ځاځیوکې دائتلافي اداري دلوي اوستراتیژیك مرکز ترنیسیر فتحه کیدو وروسته دکابل اداري ځواکونو دخپلي ماتې دجبران په احمقانه خیال ماهیپر ته څیرمه دحزب اسلامي دویاړمنو غازیانو داولي کرښي سنګرونه دخپلو درنډو وسلو ترډوه تعرضي بریدلاندي ونیول چې په نتیجه کې ددوي دابرید نه یوازې په شاوتمبول شو بلکي ددوي له ځواکونو څخه څوپوستي ونیولي شوي .

(٤)مخ

عزیزالله "واصفی" :

طالبانو هغه مورچې، چې حزب اسلامی په کلونو، کلونو ساتلی وی، نظارشوراته تسلیم کړی

دسردار داود د دورې دلویې جرګې رئیس عزیز الله "واصفي " ویلي چې طالبانو دحزب اسلامي په خلاف دعمل کولواود دمزارې د وژلو په لویې اشتباه سره دمسعود لپاره دالار اواره کړه چې دهغه له دووهمو حریفانو یې غمه شي.

واصفي زیاته کړې هغه مورچې چې حزب اسلامي په کلونو کلونو د"مسعود" په مقابل کې ساتلې وي ، طالبانو په ډیره اسانې مسعود ته تسلیمي کړې او دطالبانو داحرکت ددې سبب شو چې مسعود اوریاني په کابل کې خپله واکمني خوندي کړي او دیوڅه "وجاهت " او "مشروعیت " دعوه وکړي.

واصفي دغه ټکي په دې وروستیوکې له "مجاهد ولس " جریدې سره په مرکه کې څرګنده کړي .

(٤)مخ

احمدشاه "مسعود" خپلوقوماندانانو ته دحزب دقوماندانانو دمنقولواوغیرمنقولو شتمنیو دورکولو ژمنه کوې

د «شهادت » خبریال دیوه باوري خبرځاي له خولې ریوټ راکوي چې په سالنګونوکې دحزب اسلامي دقوماندانانو ترمضبوطو ګوزارونو وروسته دنظارشوري قوماندانانو اوافرادو خپل مورال له لاسه ورکړي اودحزب په ځواکونو باندي بریدونوته زړه نه کوي.

په همدې وجه څوورځې دمخه مسعود دسالنګ دجګړې قوماندانان جبل السراج ته ورو غوښتل، هغوي ته ئې دروحیې اوانګیزې ورکولو لپاره له دې پرته بل هیڅ نه درلودل چې ورته ووایي : تاسو مقاومت وکړي خپل قوتونه دپرمختګ لپاره چمتوکړي، که موهرڅومره ساحې لاندي کړې په هغوساحوکې دحزب دقوماندانانوټوله منقوله اوغیرمنقوله شتمني په «مانوتې» توګه تاسي ته سپارم.

دکابل اداری اوطالبانو ترمنځ دخبروسره سره:

یوخل بیا دکابل اداری جنګی الوتکو دهلمند ګن شمیر سیمی تروحشیانه بمباری لاندی ونیولی

دهلمند ولایت څخه رارسیدلي خبرونه وایي چې داڅوورځې کیږي چې دکابل اداري یوهیئت هلمند ته تللي اوهلته ئې دطالبانو داستازو سره دسولې اواوریند په اړه خبرې پیل کړې دي .

خبرځاي لیکي چې دکابل اداري اوطالبانو ترمنځ دخبرو سره سره پرون یوخل بیا دکابل اداري جیټ جنګي الوتکوهلمند ولایت ګن شمیر سیمې ترخپلو وحشیانه بمباریو لاندي نیولي اودسیمواوسیدونکو ته ئې درانده مالي اوځاني تاوانونه ورواړولي دي.

دایران دبهرنیوچارو دوزارت مرستیال بروجردي

دکابل اداري له واکمنوسره ترلیدو وروسته اسلام آباد ته راستون شو

اسلام آباد - د وږي ١ :

له اسلام آباد څخه په ترلاسه شویو ریوټونو کې ویل کیږي چې دایران دبهرنیوچارو دوزارت مرستیال محترم بروجردي ورمه ورځ دکابل اداري له واکمنو سره ترلیدو وروسته اسلام آباد ته ورسید .

خبرځاي لیکي چې محترم بروجردي اسلام آباد ته تررسیدومخکې په کابل کې یوه مطبوعاتي کنفرانس ته دوینا په ترڅ کې دکابل اوایران ترمنځ دنیکو اړیکو په باب واڅرګند کړ اووه خپل سفرکابل ته یودوستانه اوپه زړه پورې سفروباله .

خبرځاي زیاتوي چې ده دخپلي وینا په ترڅ کې کابل ته دخپل سفرهدفونه څرګند کړل اوویې ویل چې زمونږ هدف له دې سفرڅخه دکابل اداري له واکمنو اودهغوي دمخالفینوسره خبرې کول ؤ .

بروجردي زیاته کړه چې موږ دخپل دې سفرپه ترڅ کې دکابل اداري له واکمنوسره داقتصادي ،تجارتي او فرهنګي

ص(٤)

دسمنګانو په ولایت کې :

دکابل اداری پلویانو دمجاهدینو دسنګرونو د اخیستلو په بدل کې (٧) پلویان له لاسه ورکړل

سمنګان - د وږي ١ :

دسمنګانوولایت څخه دترلاسه شویو ریوټونو په حواله ویل کیږي چې ورمه ورځ دسمنګانو ولایت دارغم او زاوختن په سیمو کې دکابل اداري پلویانوغوښتل چې دیپسو په مقابل کې دمجاهدینوځینې سنګرونه ترلاسه کړي .

خبرځاي لیکي چې دکابل اداري قوماندان خوشخت دکاکاحسن مرستیال حمله چې له مجاهدینوڅخه وغوښتل چې په

ص (٣)

حمله شورای نظارشکست خورد

چندین قریه درنهرین به تصرف شورای عالی هماهنګی درآمد

نهرین - ١ سنبله :

یك مرکزمهم وده سنګرمستحکم نیروهاي شوراي نظار در منطقه نهرین به تصرف نیروهاي شوراي عالي هماهنګي در آمد .

ګزارشهاي رسیده ازولایت بغلان حاکیست که به تاریخ ٢٠ برج اسد جنګجویان اداره کابل درساحات نهرین دست به یك سلسله تعرضات بالاي مواضع شوراي هماهنګي زدند که درنتیجه جنګ درمیان نیروهاي شوراي عالي هماهنګي و جنګجویان شوراي نظار درګرفت .

درخبر آمده است که درجریان این نبرد ها یکي ازمراکز بزرګ دشمن به نام «ورتنګزه» وده سنګر مستحکم آنهاکه شامل آسیاي کامران ، آب زرین، تخلي سامي، ریشم ساي ،قریه پنجشیري وشب شاي میباشد به تصرف نیروهاي شوراي عالي هماهنګي درآمد .

درجریان این جنګ هاسي نفر دشمن هلاك ، پانزده تن آنها اسیر ،بیست میل کلاشنکوف، دومیل پیکا،دومیل راکت آر،پي ،جي ٧ ، یك میل زیکاویك ،یك میل هاوان ومقدارزیادمهمات به دست نیروهاي شوراي عالي هماهنګي افتاده وفعلاً نظم وامنیت درمناطق تصفیه شده برقراربوده ومردم به امور روزمره زندګي خویش ادامه میدهند .

به اثر فساداداری وبی نظمی موجود :

سلاح فروشی قوماندانان اداره کابل افزایش یافته است

کابل ٣١ اسد : به اثر فساد اداري، سلاح فروشي وقاچاق موادمخدر بین قوماندانان اداره کابل افزایش یافته واکثر قوماندانان بااستفاده ازاین وضع درصدد فروش اسلحه مختلف النوع بخارج ازمناطق تحت کنترول اداره کابل مي باشند.

به همین سلسله یکمقدارکافي سلاح ومهمات درشهرکابل و ولایت کاپیسا که بخارج ازشهر انتقال مي شد ،توسط افراد به اصطلاح امنیتي اداره کابل بدست آمد.

این اسلحه شامل یك راکت نوع (بلوفایف) یکمیل ماشیندار (پیکا) ویکمیل کلاشنکوف که دریك تکسي جابجاً شده وازشهرکابل به بیرون انتقال مي شد وهمچنان دومیل دهشکه وګرینوف که ازمرکز ولایت کاپیسا به خارج ازآنولایت منتقل مي ګردید . توسط مؤظفین اداره کابل بدست آمده وعاملان آن دستګیر شده اند.

ص(٤)

نتایج امتحان کانکور شمولیت درّدافغانستان اسلامي پوهنتون" اعلان ګردید

نتایج امتحان کانکور مورخ برج اسد براي شمولیت در "دافغانستان اسلامي پوهنتون" اعلان شد ریاست دافغانستان اسلامي پوهنتون لست شاګرداني راکه این امتحان را موفقانه سپري نموده ودرپوهنځي هاي طب ، انجنیري وزراعت پذیرفته شده اند ، قرارذیل اعلان داشت:

ص (٣)

سرمقاله

دحزب اسلامي مستقبل

له چهارآسیاب نه دحزب اسلامي عقبنشیني اوپه ځینورو ولایتونو کي ئي دپوځي قوتونو متلاشي کیدل ،دتیرو دریوکلونو دانکشافاتو دبدلونونودعطف ټکي وبلل شو .

دحزب «دوستان» اوه دښمنان» ټول حیران شول، له ځینوسره تصور داسي وچي دبحران دیوه لوي ،فعال، دینامیك اومقاوم ځواك په کمزوري کیدوبه دهیواد وضعه بدله شي، دجگړي لمبي به تیتي شي اوقضایاوو دحل دغوټوپرانیستل به اسانه شي .

دځینواټکل داوچي نورموضوع ختمه ده ، طالبان یوغالب ځواك دي، کابل به نیسي، مخالفین به ځپي اویابالاخره دوغلبي» اوه زور» بیرغ به ئي په ټول هیواد رپیږي ، اودابیرغ به په هیواد کي دجگړي دختم ، دسولي دتأمین، دملي وحدت داعادي اوټینګښت اومرکزي حکومت دجوړښت اواستقرارنښه وي.

وطالبان» هغه سیلاب ته ورته ګڼل کیدل چي ګویا ئوږنه چا تم کولاي شواي اونه ځنډولاي ، دچهارآسیاب ترپرېښودو وروسته ، دامفهوم استاده سیاف » په ننګرهارکي دحزب اسلامي یوه مسئول ته په مخابروي پیغام کي داسي ځرګندکړ : « پلاني صاحب، داسیلاب (دطالبانوحرکت) خو له سرپښویه ووت، راځي چي یوبل ته لاسونه ورکړو ....»

مګر دحزب اسلامي قیادت ویل چي :« دحزب اسلامي پرخلاف دطالبانو عمل اوله چهارآسیاب نه دحزب پهرتوړنه نه یواځي جګړه پاي ته ونه رسیږي ، بلکي جګړه به لانونده شي، لابه خوره شي ،ولابه خطرناکه شي .

همداراز بحران به نه یواځي داواریدوخواته یونه ورل شي، بلکي لابه پیچلي شي ، اوودبه شي اودحل مزل به ئي سخت ، اغزن اوله داراوبیم نه ډك شي، دحزب قیادت ویل چي وطالبان به نه یواځي دټول افغانستان غالب ځواك نشي بلکي په کابل کي به په خونړیوجګړو واوړي ، بیلابیل عوامل داسي دي چي په کابل کي به وطالبانوپه خلاف شدید اوقهرآمیز مقاومت کیږي ، دغسي مقاومت چي طالبان به حیرانیږي ، طالبان به په دي حیرانیږي چي هغوي فکرکوي دحزب اسلامي په ځیربولوي قوت ئي مات کړي، نونظارشوري هم ورته نشي ټینګیداي، حال داچي داسرچ په ځاي ځکه نه دي چي حزب له طالبانوسره ونه جنګیده .

دچهارآسیاب ترپه «شاتګ» وروسته په اسلام آبادکي له طالبانوسره په لوړپو مذاکراتوکي دحزب یوه مسئول دطالبانواستازي ملاعباس ته وویل « چي حزب اسلامي دري کاله پرله پسي چهارآسیاب وساته خوتاسي نشي کولاي ....»

څووړځي نه وي وتلي چي دحزب اسلامي دقیادت خبري ټکي په ټکي رښتیا شوي، په کابل کي خوري نښتي وشوي، په کابل دتوغندیویاران جوړشو، په بي دریغه توګه ناپالم اوخوشه ئي بمونه واورول شول، په «دلارام » کي دوینو لښتي وبهیدل ، داسي خونړیزه اووحشتناکه جګړه وشوه چي په تیرو دریوکلونوکي ئي مثال کم و .

دقومي اختلافونو داورلمبي یوواري بیا ژیغراندي شوي، دبحران دحل سوله ایزي عملیي په ټپه ودریدي ، قضاپالا پیچلي شوله، دکابل په اداره چي دحزب اسلامي له خوا کوم فشاریروت و اوقدم په قدم ئي دواقعیتونو دمنلو په لوري مجبوروله ، هغه حالت له منځه ولاړ اودوبالوك اوتفاهم لپاره چي دمنطق ، واقعیت ګرائي اوتجربي کومه سیرازه دحزب اسلامي اودهغه دملګرودفعال حضورپه صورت کي موجوده وه ، هغه سپوتاژشوه .

نظارشوري چي ګله دحزب وحدت ځواکونه وځپل اوله طالبانو ئي وچهاراسیاب ونیوله ، بیانوهره خوا مځکه اواسمان دمسعود او هغه دملګرو د «زور» اوغلبي لپاره ګزیدل .

دیرو داسي فکرکاوه چي نور به نونظارشوري مخالفین یاهویه یل پسي اویه کیږي اویابه جوړیږي، جوړیږي د «دولت » ترچترلاندي خپله «بقا » اوه ژوند» لټوي. هغه کسان چي پاحالات سطحي مطالعه کوي اویاني مزاج داسي وي چي تحلیل اوانتخاب ئي دکمي طمع اوغلبي تابع وي، په دي فکرکي شول چي نوربه تومسعود » وي اوپه افغانستان کي ئي ددیکتاتوروري راج .

مګردحزب زعامت په دي باورو چي دابوګاذب مرج دي چي داوریدو بقا چانس ئي نشته . په دي مفهوم چي دکابل په شاوخواکي چي اوضاع په کومه بڼه انکشاف وکړ ، هغه دنظارشوري دقوت او کمال نتیجه نه وه ، بلکي یوځه تصادفي پیښي وي اویوځه نوري کمزورتیاوي اواشتباه وي ،چي وضعه ئي دمسعود په ګټه واړوله .

نظارشوري هم په دیره ویج سري اوکم ظرفي دچهارآسیاب نیول «فتح الفتوح » وبلله . او استاده ربانی » دا انکشاف په ټولوناخوالو، «ستونزو » او « چلنجونو» پاندي بري وګاڼه .

هغه به په ویناووکي ویل چي « ... دادي تردیرو ترخوشپو ورځو وروسته الحمدلله دسوکالي وخت راغي ».

خوداستادرباني سوکالي له دي پرته چي دي شخصاً له سمڅوخلاص شو، دتوغندیو ګرزهارئي له غوږولري شو اود «ارګ » دیدارئي په نصیب شو بل مفهوم نه درلود ، ځکه په قوم خوفاجعه ترپخوالابده روانه وه ان لاچي ددرد اودمایوسیو ترویمپیوپري تته شوي وه .

اوس ګورو چي دنظارشوري اودهغوي ده دولت » وضع په هرلحاظ هماغسي ده ، نه ئي نظامي بري ترلاسه کړ، نه سیاسي برتري اونه ئي ده قانونیت » اوه مشروعیت » دعوه داعتباراویاورپه کرسي کینولاي شواي .

ددي بدلونونوپه منځ کي ځینو فکرکاوه چي نور حزب په هیوادکي خپل اهمیت اونقش له لاسه ورکړي دي، اوهغه دیوه موثر ځواك په توګه تاثیراو موقعیت نه لري .

خودحزب قیادت دچهارآسیاب دپریښودوپه اوابلوکي ویل چي مونږ حالات مطالعه کوو اودخپل ولس دارزوګانو اوګټو په طرف کي به خامخا دریغ نیسو اوفعال نقش به لوبوو .

حزب اسلامي دیوه نظریاتي او لوي اجتماعي قوت په توګه زموږ دټولنې مهم ځواك دي، هغه هوښیار، فعال او مجرب قیادت اومعقول وګړي لري .

هغه چي ایمان ، وطندوستي ،منطقي توب اوخپلواکتوب ئي له ټولو ازموینیتونو بریالي راوتلي دي .

حزب اسلامي اوس له هغي مرحلي راوتلي چي دافرادو، کومي مقطع اویا خاصي وضعي ضرورت وي. حزب اسلامي زموږ دهیواد ارتباده دیوه خاص ګروپ ، قشر سلیقي اوطرزفکرنه بلکي دهیواد دبحران دحل لپاره یوداسي ضرورت دي چي له ځوانحصارګروه اوه دګمو » عناصرو پرته چي دحزب اسلامي منطق، معقولیت اوکفایت خپلو پرسوده ، بازاروئوته ګرایش ګنی، نورئي ټول هغه وګړي اوحلقي نقش لوبولوته ستړګي په لاردي چي دخپل هیواد ،ملي وحدت غواړي، هلته دټولو په خوښه داسلامي حکومت جوړیدل غواړي اودائي ارزوده چي هیوادئي دیوه ګروپ اویوي دلي دلوبومیدان نه بلکي دټولو مسلمانوافغانانو دژوند اوپټ ګډ اوخپلواك کورووي .

زموږ دیر هیوادوال دحزب اسلامي یوه لوي ابتکارته چي هغه به داسلام اوملت لپاره په قرباني ولاړوي ،منتظردي اوان شاء الله حزب اسلامي به بیرغل بیا خپل مایوس مظلوم ملت ته د«امید» خبرورکوي، هغه « امید » چي دټولو لپاره « امید» وي .

به پیشواز فتح فرخندهٔ غند جاجی

حامد

پس ازچهار روزدرگیري شدید،بالاخره درآخرین لحظات روزسه شنبه گذشته، غند سرحدي اداره کابل واقع در ولسوالي جاجي ولایت پکتیابدست مجاهدین محلي سقوط کرد. این غند درین اواخربه مقرقومانده زون جنوب اداره کابل مبدل گردیده بود. اداره کابل مسئولیت زون جنوب رابه استاد سیاف سپرده ودرنظربودکه این غند مرکزي براي فعالیتهاي اساسي نظامي استادسیاف درین ناحیه باشد. این غندتنها پایگاه نظامي باقیمانده اداره کابل درجنوب کشوربشمارمیرفت و بدین ملحظ اداره کابل اهمیت خاصي براي آن قائل بود .

دررابطه باجنگ ودرگیریهاي نظامي ، موقف حزب اسلامي افغانستان برهمگان آشکاربوده است . ملت مسلمان افغان وناظرین اوضاع افغانستان نیك بخاطردارندکه حزب اسلامي همواره برین نکته تأکید داشته است که جنگ رانه تنها راه حل بحران حاکم برکشورنمیداند، بلکه معتقداست که هیچ یك ازمعضلات کوچك وبزرگ مواجه به رانمي توان بادرگیري نظامي یا جنگ حل کرد. آغاز وادامه درگیریهاي نظامي وجنگهاهمواره برحزب اسلامي تحمیل گردیده اند . حزب همواره باتمام توان کوشیده است تا از کشانیده شدن به درگیریهاي داخلي اجتناب ورزد.

زیرا این درگیریهاجز ویراني کشور،ضیاع سرمایه هاي ملي وشخصي، کشته شدن افراد این کشور خونین، فراهم آوري زمینه مداخلات بیشتر و معلن وغیرمعلن اجانب درامورداخلي ما، ثمره دیگري نداشته ونخواهدداشت . کدام یك ازین درگیریهارامیتوان نام بردکه پدریامادري راازین یاآن کودك نگرفته وخانواده اي را درغم ازدست دادن سرپرست یاعزیزي سوگوارنساخته باشد .

اما، حاکمیت سکتاریست اداره کابل که نه تنها فلسفه وجودي وقوت، بلکه بقايشرع را نیزوابسته ومنوط به ایجاد درگیري واشتعال آتش جنگ دراینجایاآنجابوده وهست ، به چیزي جزجنگ افروزي نمي تواند، باندیشد .

عده اي بي خبر ازقضایاي کشور بامتأثرازالقاءات محافل خاصي ، عقب نشیني تاکتیکي حزب اسلامي ازچهار آسیاب رایابان محضور نظامي حزب در افغانستان خوانده یاپنداشته اند . آنان هرگاه خواسته باشند وبامصلحت تشخیص دهند، میتوانند صحت وسقم قضاوت یاتبلیغات شانرا ارزیابي کنند . اما، اینکه سقوط غند سرحدي اداره کابل بعنوان « آغازورود مجدد حزب اسلامي به صحنه نظامي کشور» تلقي میگردد، خطاي دیگریست که گروه فوق مرتکب میشود.

حزب اسلامي افغانستان از سال ۱۳٥٤ باین سو، درافغانستان حضور نظامي داشته وتانجات کشور ازبحران کنوني، حفظ نیروي نظامي خودرا یك ضرورت مبرم میداند. ولي تاجاییکه موضوع به سقوط غند سرحدي اداره کابل درجاجي مربوط است ، باید این مسئله را واضح گردانید که درگیري اخیر درین منطقه ، جنگ بین حزب اسلامي واداره کابل نه بوده است . این جنگ دراصل بین اهالي ولسوالي جاجي بشمول قوماندانان محلي حزب اسلامي باافراد غند سرحدي اداره کابل صورت گرفت .

اداره کابل باتمام قوا کوشید ازسقوط این غند جلوگیري بعمل آورد سقوط این غند سرحدي ،آنچنان غیظ وخشمي در سران اداره کابل پدید آورد که حملات هوایي شان دامنه این خشم رابه فراتر از خط دیورند گسترش داده وقرا، مسکوني را ازدوطرف خط مورد بمباردمان قراردادند.

هموطنان عزیز مابخاطردارندکه اهالي این منطقه ازمدت مدیدي باین سو خواهان برچیده شدن این پایگاه نظامي بودند .زیرا ملیشه هاي مستقردرین غند وقتاً فوقتاً براي اهالي این ناحیه مزاحمتهایي ایجاد کرده واز مدت یك سال باین سو به دزدي، راهزني واختطاف اهالي محل ومسافریني که ازین ناحیه عبور ومرور داشتند ، مشغول بوده اند .

اهالي محل که ازین وضع به ستوه آمده بودند به مجاهدین محلي مربوط منظمات گوناگون مراجعه کرده وازآنان خواستندکه یاخود جلومزاحمتهاي پرسونل غند رابگیرند یااینکه خوداهالي جاجي اقداماتي اتخاذ خواهندکرد .

بخاطر داریم که سال گذشته نیز درنتیجه شکایات روزافزون اهالي منطقه ، مجاهدین جاجي باپرسونل غند درگیرگردیدند کـه درنتیجه وساطت یك جرگه محلي قومي، درگیري خاموش گردید.

مابار دیگر تاکید میورزیم که درگیري و جنگ را راه حل قضیه کشورندانسته وخواهان حل وفصل تمامي معضلات مواجه به ازطریق مسالمت آمیز هستیم،ادامه سیاست کنوني اداره کابل مبني برانحصارطلبي واشتعال آتش جنگ بعنوان تنها راه بقا، ازنظر مامحکوم به شکست بوده ومعتقدیم که اولین قرباني ادامه این سیاست، خود معتقدین به این پنداروتوهم ودراوضاع کنوني خود اداره کابل خواهدبود .

دهیواد د روانو حالاتو په باب دداکتر صمد "حامد" د وروستیو څرګندونو متن

که روسان په افغانستان کي خپل حضور باندي اعتراف وکړي اوکه نه، زموږ هیوادوالوته دتیرو دري کلونوترخوتجربو په اساس داڅرګنده شوه چي په ۱۹۹۲ کال کي دکابل کمونستي رژیم دشکلي او ظاهري رانسکوریدو څخه وروسته له بده مرغه تراوسه پوري هم زموږ په هیواد کي نه دروسانواونه دهغوي دکمونستي اوغیرکمونستي ګوډاګیانو نفوذ او لاس وهنه خلاصه شوي ده اونه هم کوم اسلامي اویاملي نظام نافذ شوي دي . په دي ارتباط بناپي داواقعیت په نظر کي وي، چي دشوروي کمونستي امپراطوري وه ، اوروسان پکي دتصمیم اوسلطي خاوندان وو، اوس هم دروسي غیرکمونستي دولت نه یوازي دروسیي دامپراطوري دنوي سره سمبالولو په هڅه کي دي، بلکه زموږ په منطقه کي بي په دي اړوند موثر ګاموته هم اخیستي دي .

دانوي امپراطوري غواړي چي دیوي خوا نه دشوروي امپراطوري دټولو امتیازاتو او حقوقو وارث وګرځي اودبلي خوانه تروسه وسه پوري دهغي امپراطوري دمسئولیتونو دبارنه هم ځان وژغوري. نو ددي کبله دافغانستان په ارتباط دوي غواړي ددي واقعیت نه انکاروکړي، چي روسانو دشوروي نظام په جامه کي زموږ هیواد باندي حمله اوتیري کړي اوپه نتیجه کي عملاً زموږ هیوادویجارشو، یونیم ملیون مظلوم هیوادوال موددوي په لاس شهیدان شول، په همدي اندازه زموږ نور هیوادوال جسماً اویاروحاً معیوب وګرځیدل اوزموږ دهیوادمعنوي اومادي شتمني اوحیثیت تالاشو.

دبلي خوانه دوي په دي هم ټینګارکوي چي دوي دشوروي امپراطوري دهغو حقوقو اوامتیازاتو وارثان دي، کوم چي دهغي امپراطوري اوددوي افغاني ګوډاګیانو اویانورو افغاني حکومتونو ترمنځ دترل شوو معاهدو څخه راپیدا شوي دي .

دروسانو سفارت به په کابل کي ترلي وي، خوسره ددي هم زموږ دتیرو دري کلنوتیاه کوونکو پیښو اودهغوپه سیاسي اونظامي ماحول کي نه یوازي ددوي قوي اوموثره لاس وهنه محسوسه ده . بلکي دوي په عین حال کي زموږ په هیواد کي ددغولاس وهنو په نتیجه کي دراپیدا شریو ګډوډیو اوتباهیو نه هم دخپلي امپراطوري دنوي سره سمبالولو په لاره کي استفاده کوي اوهمدا راز تري زموږ په منطقي کي دخپل حضوراو نفوذ دلزوم اوضرورت دتیري وسلي په حیث کارا ‌ي. ځکه چي دوي په دي رابطه دنړیوالو اوپه تیره بیادغربیانوپه وړاندي داسي استدلال کوي چي په منطقي کي ددوي حضور اونفوذ دهغو خطروتو دمخ نیوي عامل ګرځي، کوم چي په دي منطقه کي اوپه تیره بیا دافغانستان دموجودو ګډو وډو حالاتوڅخه دفوندامنتالیزم، تروریزم اودمخدرو موادو دتولید اوتجارت څخه راپیدا کیږي اوراپیداشوي دي .

همدارنګه روسان غواړي چي زموږ دمنطقي اسلامي دولتونه اوعلاقه لرونکي نوراسلامي دولتونه دافغانستان اومرکزي آسیا په جمهوریتونوکي دخاصو سیاسي اواقتصادي موقعیتونو دتطمیع په وجه نه یوازي دي هیوادونو کي دخپل نفوذ ایجاد اویا ډیر کړي، بلکي ددي لاري څخه ددي دولتونو ترمنځ په دي اړوند دنویو رقابتونو اومخالفتونو دایجادولو په واسطه هم خپلي ګټي ترلاسه کړي .

دروسانو اوزموږ داسلامي دولتونو ملګرو ددي سلوك په نتیجه کي زموږ هیواد دتباهي ګرنګ ته راکښل کیږي . روسان په دي هم بریالي شوي دي، چي خپل دهوطن دحزب » او نورګوډاګیان په یوه اویابل نوم زموږ دهیواد دسیاست اودجګړي ددګرفعالولوبیلو حلقو سره مدغم کړي اوددي لاري نه زموږ په سیاسي اوټولنیز جریان کي خپل حضور اونفوذ وساتي اوپه عین وخت په دي وجه دجهاد په ماحول کي دتنظیمي حلقو دبدناموليپه واسطه زموږ دجهاد اودواقعي مجاهدینو چي په حقیقت کي زموږ دخپل شوو هیوادوالو لوي اکثریت پکي شامل دي ، بدنام کاندي، ترڅوچي ددوي کمونستي او غیرکمونستي شرمیدلو اوبدنامو ګوډاګیانو ته بیا په هیوادکي دعلني سیاسي فعالیت امکان ترلاسه شي .

له بده مرغه په دي لوبو کي هم دمنطقي مسلمان دولتونه اوهم دجهاد دماحول اکثرو تنظیمونو اوهدوي خارجي ملګروپه ارادي اوغیرارادي توګه روسانوسره مرسته کړي ده اولایي هم کوي،ځکه چي دوي اوس نوروحلقوته هم دازمینه اودابهانه جوړه کړه چي دوي هم دکمونستانوسره ائتلاف وکړي اویا ورسره یوځاي شي .

که څه هم اوس به دشوروي سورلښکر اودروسانو اردو زموږ په خاوره کي موجودنه وي، خوزموږ خاوره اوزموږ هیوادوال دروسانودنوو اوپخوانیو وسلو په واسطه تراوسه پوري هم وړانیږي اوتباه کیږي، په داسي حال کي چي دخپلودي وسلو دځرڅلاو له کبله ډیر خارجي اسعارهم ترلاسه کوي، پرته ددي چي ددوي دکوم عسکرپزه وینې شي .

همدارازپه کابل کي دکمونستي رژیم دشکلي رانسکوریدلو سره سره زموږ دهیواد مهم سوق الجیشي مرکزونه لکه دشینډنډ، مزار اودکابل په شمول دبګرام هوایي جنګي ډګرونوملت، کابل ګارنیزون اودهغه متعلقات اوځینی نورلکه پخوا غوندي دروسانو ترنفوذ لاندي دي، او هیڅ وخت هم دهغو افغاني حلقو په لاس نه دي لویدلي چي ددوي واقعي مخالفین دي، داسي ښکاري‌لکه چي ددوي دانفوذ به زموږ داسلامي ګاونډیو دولتونوله خواهم منل شوي وي .

په کابل کي به دروسانو اقتصادي مستشار اونورتجارتي مرکزونه موجودنه وي، خودشوروي اتحاد اکثر امتیازات په مستقیمه اویاغیرمستقیمه توګه ددوي په لاس کي دي: دهیواد تیل اوګاز، کیمیاوي سره، مالوچ اونورشیان دپخوا په څیردوي ته رسیږي ، پرته له دي چي زموږ هیوادوالوته دامعلومه شي، چي ددي شیانوبیه دچا له خوا، په کوم اساس ټاکل کیږي، اوپیسي بي څنګه او چاته دکوم قرارداد په اساس ورکول کیږي . همداراز نه یوازي داچي دهیواد بانکنوټونه دبین المللي تعامل په خلاف روسیي کي لکه پخوا غوندي چاپیږي، بلکه عملاً دوي په دي باره کي هم تصمیم نیسي چي کله ، څومره بانکنوټونه، چاته ، دڅه شي دپاره ورکړي یعني ددي لاري نه زموږ دهیواد مالي اوپه نتیجه کي تردیره حده پوري سیاسي اونظامي مسایل ددوي ترکنترول اوتاثیر لاندي واقع شوي دي .

په کابل اودهیواد په نورو ځایونوکي به اوس دکي جي بي دشبکي مرکزونه موجودنه وي، خوددي موسسي افغاني څانګه ولو که د « خاد » نوم بي اوس بدل شوي هم وي، خپلو اکثرو پخوانیو کارکوونکو سره لااوس هم په خپل «خدمت » بوخت دي .

په بین المللي اومنطقوي سطح هم دروسانوداحضورپه افغانستان کي ولوکه په ضمني توګه هم وي، له بده مرغه عملاً منل شوي دي .

سره ددي چي په اتباوعه لسیزه کي اکثراسلامي اوغربي دولتونه زموږ دهیوادوالو دجهاد په اوږدو کي زموږ نږدي ملګري وو، اوزموږ دولس دحقوقو اودجهاد اودجهاد داهدافو دتحقق په لاره کي بي په کلکه سره زموږ ملاتروکړ، خوبیا ددي دافغانستان په باره کي دملګرملتونو دموسسي په وساطت په جینواکي رامنځ ته شوي قرا دادونوسره خپله موافقه وښودله اودایي ومنله چي زموږ غلیم باغتدال شوي او تکول شوي شوروي اتحاد چي لاسونه بي زموږ دبي وځلوهیوادوالو په وینه ککړوو، دامریکي ترڅنګ یو ځاي په افغانستان کي دسولي دضامن نقش ولوبوي .

پرته ددي چي زموږدهیوادوالوبي ساري اوټمربیتونکي جهاد اوزموږهیوادولس ارادي ته کوم اهمیت ورکړل شي، دکابل دهغه وخت کمونست رژیم بي عملاً دافغانستان ددولت دمثل په توګه دپاکستان سره دبرابرومتخاصمو دوودحکومتونوپه توګه ومنل شو اودا تقاضا دداورو خواو ونه وشوه ، چي دوي به پس ترڅو دیوه بل په کورنیو چارو کي ګوتي نه وهي. یعني دافغان مجاهد ولس جهاد دپاکستان دګوتو وهلو په حیث راتیت شو .

ددي پیښي په رڼاکي هرڅل بیا دایه واګه شوه، چي له بده مرغه په سیاست کي دخبرو اوعمل ترمنځ لوي اختلاف موجوددي. ده اسلامي ورورولي او ټساند»، دبشري عالي ارزښتونو لکه آزادي او دمظلومانو دحقوقو نه ملاتر یوازي خبري وي اوترهغه وخته پوري پري تظاهرکیده ، چي دتري اودمنطقي په سطح ځیني اهداف ترسره شول، دهغي نه وروسته غربیانوته داخبره دیومسلم واقعیت په توګه ورښکاره شوه چي په حقیقت کي «کابل » دوي ته ده ماسکو» ته تناسب ډیر لري پروت دي، په اسلامي نړي کي زموږ ملګري دولتونه اونوري حلقي هم زموږ دجهاد څخه دمنطقوي او نړیوال سیاست په سطح دثمر اخیستلوپه وروسته نورتودي ته حاضرنه وو، چي دوي په نړیوال اومنطقوي سیاست کي زموږ دجهاد دمقام اودافغانستان دقضیي ترشماع او سپوري لاندي واقع شي . پرخلاف ددوي شخصي حسابونه شروع شول :

ددوي هڅه عموماً دي ته متوجه شوه چي زموږ دایثار اوجهاد له برکته په منطقي کي راپیداشوو نوو حالاتوڅخه دخپلو ګټواوقدرت طلبیو دتحقق په لاره کي لازمه برخه واخلي ولو که ددوي دااقدام زموږپه ضررهم وي . ددي کبله دوي په دي هڅه کي شول چي هریو ترڅپلي وسي پوري په افغان ولس کي دخپل خلک « قدرت ته ورسوي اویا لږ ترلږه دوي دافغانستان په قدرت کي ورشامل کاندي . دمعنوي انساني اواسلامي جذباتوځاي دقدرت دلوبو په بي رحمي سحني راښکته شو . ...

ایجابوي چي روسان دي دتري اودمنطقي په سطح دشوروي اتحاد دعملي وارث په توګه ومنل شي.

همداراز کومي هیلي چي دمرکزي آسیا دجمهوریتونو خلکو ته دشوروي امپراطوري دسقوط نه وروسته ددوي داستقلال اونوي نظام په باب پیداشوي دي، ورو ورو له منځه لاړي نه یوازي دا چي دي ملکونوکي پخوانی کمونستان یامسلط پاتي شول اویا اکثراً د کي جي بي اودروس قواو په زور بیرته مسلط شول اودنورو انکشافاتو ترڅنګ دتاجکستان، ازبکستان اوترکمنستان په جنوبي پولو کي روسي عسکرځاي په ځاي شول اوپه نتیجه کي دروسیي دسیاسي اونظامي نفوذ له کبله ددي جمهوریتونو استقلال عملاً محض شکلي اوتشریفاتي بڼه غوره کړه .

په بل عبارت، سره ددي چي دجغرافیايي اوشکلیاتوله نظره موږ اوروسیه سره اصلاً ګاونډیان نه یوو اونه هم روسیه زموږ په منطقي کي ګډون لري، خو لکه څنګه موچي ورته ګوته ونیوله ، دروسیي نظامي، سیاسي اواقتصادي حضور اونفوذ زموږ په شمالي اوشمال غربي ګاونډ کي نه یوازي دروسانوپه ادعا اوددي دجمهوریتونو په عملي تائید موجود دي، بلکي زموږ دمنطقي او نورو خارجي ملګرو دولتونو اوزموږ دهیواد دسیاست اوجګړي په وګرګي دتنظیم شوو فعالو افغاني لوبغاړوله خوا هم دا ادعا دواقعیت په توګه منل کیږي . ماسکو ته دافغاني ذکرشویو حلقواو دهغوي خارجي اسلامي ملګرو دهیئتونو نسبتاً مرتب تګ اوراتګ ، وعدي کول اووعدي اخیستل اوپه خاصه توګه بیابیا دي آخرو وختونو کي دځینو افغاني حلقو ترمنځ دروغي اوجوړي دایجادولو په رابطه دروسانوسیمه ایزفعاله کیدل او په دي رابطه ددي حلقو هیئتونه ماسکواوتاشکند ته احضارول داوضع په واضحه توګه ثبتلوي .

دي ټولو خبرو سره سره باید وویل شي چي هم دروسانو ، هم دمنطقي داسلامي دولتونو اوهم دافغانستان دسیاست او جګړي دوګر تنظیم شوو لوبغاړو ذکر شوو هلوځلو تراوسه پوري لازمه نتیجه نه ده ورکړي .

روسان لا تراوسه پوري دخپلي امپراطوري دنوي سرنه سمبالولو په لاره کي خپلو هدفونوته نه یوازي داچي نه دي رسیدلي، بلکه په روسیي کي دننه هم جلاکیدونکي قوتونه فعال شوي اوورځ په ورځ لانور هم قوي کیږي . له بلي خوا دنړیوال سیاست په سطح هم ترپوي اندازي پوري دروسانو دغه راز عظمت غوښتونکو هلوځلو ته دشك اوتردید په سترګه کتل کیږي اودي واقعیت ته دپخوا نه هم لازیات اهمیت ورکول کیږي چي دعظمت طلبي اوتوسعه غوښتنلو عملیه که دکمونیزم اوپانشلیزم څخه راپیداشوي وي، دنړي سولي او ثبات ته یوبرابر خطرونه لري .

همداراز زموږ په منطقه کي هم نوي بدلونونه رامنځ ته کیږي، یعني دمنطقي ددولتونوترمنځ دذکرشویو رقابتونو دزیاتو ... له کبه دمنطقي ... دمنطقي په حوزي کي ...

واقع شوي دولتونوترمنځ نوي سیاسي جوړښتونه او جبهه ګیري ایجادیږي چي احتمالاً به نظامي ابعاد هم پیداکاندي. دمثال په توګه دپاکستان،سعودي عربستان، احیاناً ترکیي اوځینو نورو هیوادونو په مقابل کي دروسیي، هنداوایران ترمنځ یوبل سره نږدي والي دذکر وړیریښي .دغه رازجبهه ګیري چي دمنطقي ددولتونو دواقعیت لیدلو نه دلري سیاست نتیجه ده اوزموږ دمنطقي اوپه تیره بیا به زموږ دځپل شوي هیواد سوله اوثبات لانورهم په خطرکي واچوي، دي جبهه ګیریو کي شاملو دولتونو ته هم ډیر ضرر رسوي .

دروسانواودهند دا ادعاچي دوي داسلامي بهضتونواوهغوته ناشي فونډامنتالیزم اوتروریزم له خوا تهدیدیږي او باید له دي کبله دفاعي ګامونه واخلي دایران سره ددوي نږدي والي له کبله په واضحه توګه داعتباروړنه غورځیږي . دبلي خوانه دایران دا ادعا چي داسلامي انقلاب دمرکزیه حیث دضد اسلامي ځواکونوله خوا تهدیدیږي، په اسلامي نړي کي به ورته لانورهم دشك اوتردید په نظروکتل شي زموږ پاکستاني ،سعودي اوترکي وروته هم بنایي په دي پوه شي چي دوي په منطقي کي اوهمدا راز زموږپه هیوادکي دخپلواقعي امکاناتو څخه زیات توقعات لري اوداسي جبهه ګیري ترډیره حده پوري ددوي دسیاسي سلوك په مقابل کي دعکس العمل شکل لري . بنایي چي دوي هم ددي نوو انکشافاتو په رڼاکي خپلو دریځونو باندي اوپه تیره ... دافغانستان په ارتباط ... تجدیدنظر وکړي .

